مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آريا

۲۰۲۶/۰۴/۱۰

# د افغانستان بايوګرافيکي قاموس
## دوهم ټوک
(پوديرشمه برخه)

### صوفي عبدالغني غني

د عبدالشکور زوی په کابل کې زېږېدلی دئ. دوديزي زده کړې ئې کړي دي. د زينکوګرافي يا د اوسپني پر مخ د حکاکي هنر ئې زده کړ او د ۱۹۱۵ز کال په شاو خواوو کې د دولتي مطبعي په رياست کې د زينکوګرافی د څانګې مدير وو. په وروستيو کې ئې د دفاع د وزارت په مطبعي کې کار وکړ. په ۱۹۵۶ز کال کې متقاعد سو. شاعر.

### محمد ناصر غرغښت

په ترکيه کې ئې تحصيل کړی دئ. په ميمني او بدخشان کې د معلوماتو مدير. د کابل ښاروالی د ترميماتو عمومي مدير. د کابل ښاروالی د نشراتو او معلوماتو مشر. د ستوري مدير. ليکوال. د ۱۹۶۶ز کال د «رهنمای کابل» مؤلف.

### ميرزا غريب الله

په ۱۹۱۱ز کال کې زېږېدلی دئ. د لومړنيو زده کړو له بشپړولو وروسته د امير امان الله پر مهال د کورنيو چارو په وزارت کې کاتب سو. په ۱۹۳۰ز کال کې د ګل محمد مهمند پر مهال سرکاتب سو. په قطغن کې د تفتيش مدير. له ۱۹۴۳ تر ۱۹۵۳ز کال پوري په کندهار کې د تفتيش مدير. له ۱۹۵۳ تر ۱۹۵۶ز کال پوري د مزار شريف د احصائيي مدير. په ۱۹۵۶ز کال کې په کابل کې د «چهاردهي د اطراف» د احصائيي مشر. په ۱۹۵۶ز کال کې متقاعد سو. د ظفري تخلص ئې غوره کړ. په ۱۹۷۷ز کال کې په کابل کې وفات سو.

### جنت خان غروال

په ۱۹۱۹ز کال کې د پکتيا ولايت په ځاځي ميدان کې زېږېدلی دئ. د پښتني تجارتي بانک سرپرست رئيس او وروسته ددغهٔ بانک رئيس. د غازي له ليسي او له دارالمعلمينو فارغ او د افغانستان بانک له پلوه په داير سويو کورسونو کې ئې ګډون کړی دئ. په افغانستان کې د اقتصاد او د سوداګريزو ستونزو د مقالي ليکوال. په ۱۹۷۳ز کال کې ولسمشر داؤود زنداني کړ؛ په ۱۹۷۹ز کال کې د دهمزنګ له زندانه د پلچرخي زندان ته ولېږدول سو او د ۱۹۷۹ز کال د سپتمبر په مياشت کې د حفيظ الله امين پر مهال له زندانه خوشې سو. مورنی ژبه ئې پښتو ده. په ۱۹۸۳ز کال کې په اسلام آباد کې ووژل سو.

### عبدالصمد غوث


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

د غلام غوث فغان(چې يو ځل د اقتصاد وزير وو) زوی په ۱۹۲۸ز کال کې په روم کې زېږېدلی دئ. د عبدالصمد خور (د ملالی د ليسې مديره) حميرا حميدي نومېږي او بله خور ئې عايشه نومېږي (چې د محمد صالح خيرزاده مېرمن ده). د استقلال د ليسې او د فرانسې د سوربون د پوهنتون فارغ. خپل ليسانس ئې په سياسي علومو کې د ژنوا له پوهنتون څخه تر لاسه کړ. په ۱۹۵۶ز کال کې د باندنيو چارو په وزارت کې شامل سو. له ۱۹۶۰ تر ۱۹۷۱ز کال پورې د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلې په غونډو کې د افغان پلاوي غړی. په ۱۹۷۴ز کال کې د ملګرو ملتونو د چارو د مديريت مدير او د باندنيو چارو د وزارت د سياسي چارو عمومي مدير. د ۱۹۷۷ د جون له ۸ د باندنيو چارو د وزارت د سياسي چارو مرستيال وزير. د ۱۹۷۸ز کال د اپريل د مياشتې په اپريل کې د غوايي له پاڅون وروسته له کاره برطرفه سو. په ۱۹۸۰ز کال کې په

پکتيا کې په داسې حال ونيول سو چې غوښتل ئې له افغانستانه ووځي. په ۱۹۸۱ز کال کې د امريکا د متحده اياﻻتو د (فلچر سکول آف ډيپلوماسي) [1] کې د تحقيق مرستيال. د زليخا په نوم له يوې محمدزۍ مېرمنې سره ئې واده کړی دئ او درې بچيان لري.

## غلام غوث فغان

د ميرزا غلام محمد زوی په ۱۸۹۷ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د حبيبيې د ښوونځي يو له لومړنيو فارغينو څخه دئ چې په ۱۹۱۵ز کال کې ورڅخه فارغ سو. له ۱۹۱۹ تر ۱۹۲۰ز کال پورې د حبيبيې په ښوونځي کې د درې ادبياتو ښوونکی. د باندنيو چارو په وزارت کې اداري عمومي مدير او وروسته په لندن کې مقيم د افغان سفارت سکرتر، او همدلته ئې د «وايولټ پريش» [2] په نوم له يوې انګليسۍ مېرمنې سره واده وکړ؛ په دې توګه دی مجبور سو چې خپل ډيپلوماتيک مسلک قطع کړي. په ۱۹۵۱ز کال کې د ملي اقتصاد د وزارت مرستيال وزير. د سوداګريزو چارو د خونې رئيس. د مشرانوجرګې مرستيال رئيس. په ۱۹۴۷ز کال کې د ماليې د وزارت مرستيال وزير. د «فغان» په مستعار نوم شاعر. په ۱۹۶۰ز کال کې د امريکا په متحده اياﻻتو کې په روغتون کې وفات سو. زوی ئې عبدالصمد غوث د ولسمشر داؤود تر لاس لاندې د باندنيو چارو مرستيال وزير سو؛ لور ئې حميرا د ملالی د ليسې مديره سوه.

## ډاکټر عبدالعزيز غوثي

د محمد عمر غوثي زوی په ۱۹۳۳ز کال کې په لوګر کې زېږېدلی دئ. د نجات له ليسې څخه فارغ او وروسته بيا جرمني ته لاړ او هلته ئې په ۱۹۵۹ز کال کې خپله دکتورا په فلسفې کې او په ۱۹۶۲ز کال کې ئې د طب د فراغت سند M.D. د هامبورګ له پوهنتون څخه تر لاسه کړ. په ۱۹۶۴ز کال کې ئې د امريکا متحده اياﻻتو ته مهاجرت وکړ. د (پورټلنډ په کان) [3] کې د (مېډيکل کمپيوټر ژورنال) [4] مسؤول مدير. اوس د کاليفورنيا په «تاوزنډ اوک» [5] کې د طب د ډاکټر په توګه کار کوي.

---

[1] - Research Assistant, Fletcher School of Diplomacy
[2] -Violet Parish
[3] - Portland Conn
[4] - Medical Computer Journal
[5] -Thousand Oaks, California


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

## ډاکټر عبدالغني غوثي

د محمد عمر غوثي زوی او د محمد عارف غوثي ورور، په ۱۹۳۲ز کال کې په کابل کې زیږېدلی دئ. په ۱۹۵۱ز کال کې د نجات له لیسې څخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۵۲ز کال کې جرمني ته لاړ او په ‹‹دوچه بنک میونیخ››[6] کې ئې روزنه ولیدله. په ۱۹۵۳ز کال کې ئې د میونیخ په پوهنتون کې د اقتصاد په پوهنځي کې او له ۱۹۵۴ تر ۱۹۵۹ز کال پورې ئې د هامبورګ په پوهنتون کې تحصیلات وکړل او خپله دکتورا ئې تر لاسه کړه. له ۱۹۵۹ تر ۱۹۶۴ز کال پورې پوهنمل؛ او په ۱۹۶۴ز کال کې د اقتصاد پوهاند. له ۱۹۶۵ تر ۱۹۷۳ز کال پورې د ملي بانک رئیس. له ۱۹۶۴ تر ۱۹۷۰ز کال پورې د اقتصاد د عالي شورى غړی. له ۱۹۷۶ تر ۱۹۷۹ز کال پورې د هامبورګ په پوهنتون کې د اقتصاد پروفیسر. له ۱۹۷۹ز کال را په دېخوا تر اوسه پورې په هامبورګ کې د جرمني د وسله وال ځواک په پوهنتون کې په اقتصاد کې یوه څوکی ساتلې ده. د ګڼ شمېر کتابونو او مقالاتو لیکوال، یو کتاب ئې په مخ په ودې هېوادونو کې کوپراتیفونه[7] ‹‹ نومېږي چې په ۱۹۶۵ز کال کې ئې د نړۍ والو متحدو کوپراتیفونو››[8] د ۲۵ کلنی لمانځنی کلنۍ[9] جایزه په لندن کې وګټله. د ‹‹برمن››[10] په نوم له یوې جرمنۍ مېرمنې سره ئې واده کړی دئ چې یو زوی او پینځه لوڼې لري.

## ډاکټر حشمت غوثي

د محمد عمر زوی په ۱۹۴۹ز کال کې زیږېدلی دئ. د حبیبیې له لیسې څخه له فارغیدو وروسته جرمني ته لاړ او هلته ئې د ‹‹موني ستر››[11] له پوهنتون څخه خپل د طب د فراغت د M.D. لاسوند تر لاسه کړ. په جرمني کې د طب د ډاکټرۍ کار کوي.

## حسام الدین غوثي

د جنرال غوث الدین لمسی او د ډاکټر سعدالله غوثي ناسکه ورور په ۱۹۱۸ز کال کې زیږېدلی دئ. د استقلال په لیسې کې ئې زده کړې کړې دي. د افغانستان بانک د کندهار، مزار شریف او اندخوی د څانګو مشر. مورنی ژبه ئې دري ده.

## محمد عارف غوثي

د حاجي محمد عمر غوثي زوی په ۱۹۲۶ز کال کې په لوګر کې زیږېدلی دئ. د حبیبیې له لیسې څخه له فارغېدلو وروسته، عارف د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو په پوهنځي کې شامل سو او په ۱۹۵۲ز کال کې د لیسانس

[6] -Deutsche Bank Munich
[7] - Cooperatives in Developing Countries
[8] - International Cooperatives Alliance
[9] -Triennial Jubilee Prize
[10] - Bremen
[11] -Muenster University


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په درجې فارغ سو. بیا د امریکا متحده ایالاتو ته لاړ او د «ایلي نویز» [12] له پوهنتون څخه ئـي په کرنیز اقتصاد کي خپله ماستري تر لاسه کړه. په ۱۹۵۷ز کال کي په واشنګټن ډي سي. کي «د اقتصادي پرمختګ د انستیتیوت» [13] فیلو یا همکار. له ۱۹۶۶ تر ۱۹۶۷ز پوري ئـي په فرانسي کي د یونسکو د فیلوشیپ په پروګرام کي ګډون وکړ. له ۱۹۵۷ تر ۱۹۶۸ز کال پوري د کابل په پوهنتون کي لاربنود/ یا راهنما او پوهنمل. له ۱۹۶۳ تر ۱۹۶۴ز کال پوري د معارف د وزارت د پلان جوړولو د دیپارتمنت مشر. له ۱۹۶۸ تر ۱۹۷۰ز کال پوري د معارف د وزارت دوهم مرستیال وزیر. له ۱۹۷۰ تر ۱۹۷۱ز کال پوري د پلان د وزارت مرستیال وزیر. له ۱۹۷۱ تر ۱۹۷۲ز کال پوري د سوداګریزو چارو د وزارت وزیر. د ۱۹۷۳د مارچ له میاشتي د ۱۹۷۳ تر سپتمبر پوري د پلان په وزارت کي د بشري ځواک سلاکار. د ۱۹۷۷ز کال له جنورۍ څخه د ۱۹۷۸ز کال د اپریل تر میاشتي پوري د کرنـي د پرمختیا د بانک رئـیس. په یونسکو کي هندوستان، «لیسوتو» [14] او سودان ته په نړۍ والي دندې تللی دئ. مورنـۍ ژبه ئـي دري ده؛ په انګلیسي، فرانسوي، عربي او پـښـتو هم خبرې کوي.

## نور بیا

### محمد عمر غوثي

له لوګر څخه د جنرال غوث الدین زوی په ۱۸۹۹ز کال کي په میمني کي...

[قدرمنو لوستونکو! د ښاعلی رحمت آریا د آرشیف: لینک]

[12] -Illinois University
[13] - Economic Development Institute
[14] -Lesotho (سویلي افریقا کي یو هـېـواد)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ